د هر فرض لمانځه پسې داسې تعقيبي دعاګانې شته چې ويونکی - يا کوونکی- به يې نامراده نه شي - درې ډېرش ځلې سبحان الله، درې ډېرش ځلې الحمد لله او څلور ډېرش ځلې الله اکبر وييل

له کعب بن عجره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «د هر فرض لمانځه پسې داسې تعقيبي دعاګانې شته چې ويونکی - يا کوونکی- به يې نامراده نه شي - درې ډېرش ځلې سبحان الله، درې ډېرش ځلې الحمد لله او څلور ډېرش ځلې الله اکبر وييل».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو دعاګانو په اړه خبر ورکوي چې ويونکی به يې نه تاواني شي او نه به پښېمانه شي، بلکې د دې کلمو اجر ورته شته. او ځينې يې د ځينو نورو پسې د فرض لمانځه پسې وييل کيږي: ۳۳ ځلې «سُبْحَانَ اللهِ» يعني الله تعالى له ټولو نيمګړتياوو پاک دی. او "الحمد لله" درې ډېرش ځلې، چې دا له پوره محبت، عظمت او بشپړ کمال سره د الله تعالى يادول دي. او څلور ډېرش ځلې "الله اکبر" نو الله جل جلاله لوی، عظيم او له هر شي نه زيات د عزت خاوند ذات دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6259

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee